AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۲/۰۷

# د لوږې سونامي

## لسمه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

## پنځه څلوېښتمه برخه



جنت ګټلیه اشنا راشه
ستا دوزخي ماشومان غواړي خیراتونه

افغانستان او افغانان د خپل تاریخ په ډېرو ستونزمنو او تیارو شپو ورځو کې راګیر دي. ځیني د هغه جمهوریت افسوس کوي چې تر پرونه یې تخریباوه او بدرد یې پسي ویل، ځیني بیا نویو واکدانو ته څنې اړوی او د فتحې په نامه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شکرونه ادا کوي؛ يادې دواړه ډلې ښايي په دې خبرې نه وي چې دا ځويم کال دی چې د مځکې د کرې په ترټولو غمجنو انسانانو په لست کې مو تر ټولو لومړی ليکلی دی.

د لوږې سونامي ځپې ورځ تربلې زور اخلي او زموږ بېوسه هغه هېوادوال چې د سياسيونو د پرلپسې تېروتنو او دروغونو تېرايستلي دي، په لومړي ګام کې قرباني کېږي، يا ژوند له لاسه ورکوي او يا يې ترسترګو وړاندې ماشومان او کوچنيان د خوړو د نشتوالي په وجه په خوارځواکی اخته کېږي او ورسره سم د همدې خوارځواکو ماشومانو او کوچنيانو ميندې پلرونه په رواني ناروغيو اخته کېږي.

د افغانستان په سياسي او نظامي کشاله کې ښکېل کورني او بهرني اړخونه پر خپلو دريځونو اوس هم ټينګار کوي او نور هم د خلکو د خواريدو او نويو ستونزو د رامنځته کېدو زمينه برابروي.

د سره صليب د نړيوالې کمېټې رئيس دومينيک ستيلهارت کابل ته تر خپل سفر وروسته ويلي دي چې په افغانستان کې روان بشري ناورين به د ميليونونه انسانانو د مرګ سبب شي او په تېره د ماشومانو او کوچنيانو په باب يې ويلي دي چې:

«... د افغان ماشومانو عکسونه څرګندوي چې دوی ډېر وحشتناک ژوند لري، ډوډۍ او روغتيايي خدمتونه نه ور رسيږي، اضطراب او خپګان يې سترګو نه ښکاري او دا ډېره لړزونکې موضوع ده...»

نړيوال چغې وهي چې بانکي سيستم له منځه ځي، د هېواد او خلکو اقتصاد ويجاړېږي او ټولنه د بدويت پر لور سقوط کوي، خو د اورېد له پاره هېڅوک نه شته.

هوښيار او پوه افغانان او هغه نړيوال چې د افغانستان او افغانانو په باب د ښېګڼې فکر لري؛ همدا اوس بايد د دې بشري ناورين مخنيوی وکړي، که د دې پيل شوي بشري ناورين لمن پراخه شي، بيا به يې د مخنيوي وس له هېڅ چا او هېڅ ځواک سره نه وي.

اوس پر افغانستان او افغانانو باندې داسې حالت راغلی دی چې د هر څه غږ تېپ درېدلی دی، يوازې له هرې خوا نه لوږه چيغې وهي.

د نوي حکومت پلويان د نويو واکدارانو د تورو پاجونو، په جيبونو کې کې د اېښودل شويو مسواکونو او پاکو ځپليو صفتونه کوي، خو دې ته يې پام نه دی چې خلک د لوږې سونامي غرق کړل.

يو جا ډېر ښه ويلي دي:

«تنها صدايى که اين روزها بيشتر از موسيقى به گوش ميرسد، صداى گرسنگى و بيچارگى مردم است.»

يوه په خبره پوه فيسبوکي کارن د ژور تحليل په پايله کې افغانانو ته د لوږې له سونامي نه د خلاصون په پار ويلي دي چې:

«چې په نس ماړه نه ياست سم عبادت هم نه شئ کولای،

په فردي اقتصاد نه شئ ښادمن کيدلای تر څو چې د خپلې ټولنې اقتصادي وس او توان چاغ نه کړئ.»

په افغانستان کې د بشري ناورين او لوږې د مخنيوي له پاره هندو مذهبه هېواد (هندوستان) د پنځوس زره ټنو خوراکي توکو او درملو د مرستې وعده کړې ده؛ خو مسلمان؟ هېواد (پاکستان) له خپلې خاورې نه د دې مرستو د لېږد اجازه نه ورکوي، هم حق العبور غواړي او هم دا هم وايي چې لېږدول يې بايد پاکستاني لارۍ وکړي، څو دوی خپله ګټه وټه په کې تر لاسه کړي.

ملګري ملتونه او نورې نړيوالې خيريه مؤسسې ډېره هڅه کوي چې د انساني بحران د نه رامنځته کېدو په برخه کې مرسته وکړي، خو...

ملګري ملتونه په جګ غږ وايي چې: که مرسته ورسره و نه شي، د افغانستان بانکي نظام به له "سخت سقوط" سره مخ شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



**زه د جنت لـه نعمتونو دلته برخه غواړم**
**غړ مې درځي پروردګاره وږی شوی یمه**

ښځني نړیوال سازمان څو ځلي ویلي دي چې:

د بشري ناورین مخنیوي لپاره دي پر افغانستان اقتصادي بندیزونه لېرې کړل شي
خو په جا يي اورې او په چا يي مني؟

خلک دي برید ته رسېدلي چې:

نـه ستوری د اسمان او نه سپوږمی غواړي باچا
دې ښار کې خلک وږي دي، ډوډی غواړي باچا
شاعر (؟)

د ګودر او د ښګړي کيسې زړې دي
د وطن د وږو تـږو غـم په کار دی
شاعر (؟)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ